# هغه ته ورشه او ورته ووايه: ته له دوزخيانو څخه نه، بلکې له جنتيانو څخه يې

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د ثابت بن قيس د نادرک په اړه پوښتنه وکړه، نو يو سړي وويل: اې د الله جل جلاله رسوله، زه به يې په اړه معلومات وکړم، نو ورغی او پداسې حال کې يې وموند چې په کور کې ناست و، سر يې ټيټ نيولی و، نو ورته يې وويل: څه حال دې دی؟ هغه وويل: شر دی، خپل غږ يې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم له غږ څخه پورته کړی، نو عمل يې برباد شوی او دا چې هغه د اور له خاوندانو څخه دی، نو سړی راغی او - رسول الله صلی الله عليه وسلم - ته يې خبر ورکړ چې داسې او داسې يې وييل، نو بيا ځلې د يو لوی زيري سره وروګرځېده ويې وييل: «هغه ته ورشه او ورته ووايه: ته له دوزخيانو څخه نه، بلکې له جنتيانو څخه يې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

ثابت بن قيس له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نادرکه شو نو په اړه يې پوښتنه وکړه، يو سړي وويل: زه به يې درته خبر او د غيبېدو لامل پيدا کړم، نو هغه ته ورغی پداسې حال کې يې وموند چې خفه و سر يې ښکته کړی و او په کور کې و، نو پوښتنه يې ترې وکړه چې: څه حال دې دی؟ نو ثابت د هغه شر په اړه خبر ورکړ چې دی پکې و؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له غږ څخه يې غږ پورته کاوه، پداسې حال کې چې الله جل جلاله هغه ځوک په عمل بربادولو سره ګواښلی چې دا کار کوي، او دا چې دی له دوزخيانو څخه دی! نو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وروګرځېده او پدې اړه يې خبر ورکړ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته امر وکړ چې بېرته ثابت ته وروګرځي او زيری ورکړي چې هغه له دوزخيانو څخه نه بلکې له جنتيانو څخه دی، ځکه چې د هغه غږ پيدايشي لوړ و، او ځکه چې هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم خطبه ويونکی و او همدا رنګه د انصارو خطيب و.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee